AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم ګل سحر

۲۰۲۱/۰۱/۲۶

# «په سترګو کې لیکل شوې افسانې»

## ناول ته یوه کتنه

په سترګو کې لیکل شوې افسانې د میرمن کلتوري ټولنیز بهیر له خوا لومړنی چاپ شوی ناول دی چې ددغه بهیر یوې فعالې غړي ، لیکوالې او شاعرې طوبا ندا ساپۍ لیکلی دی . ناول دیوې افغانې پیغلې د ژوند پیښې بیانوي . دغه د زده کړو او اجتماعي فعالیتونو لیوالې پیغله مینه نومیږي چې په یوه بې مینې دوران کې ژوند کوي . په کابل کې د تنظیمونو د واک دوره په تیریدو ده او یوه بله دېرمختګ ضد دوره راځي . د ندا د ناول پیښې له همدې وخته پیلیږي . د نجونو ښوونځي چې د جهادي تنظیمونو په جګړو کې نیم ویجاړ دي ، د طالبانو د واکمنی لخوا تر ثاني امر پورې تړل کیږي .

مینه چې د یوې روڼ اندي کورنی غړې ده له زده کړو سره لیونې مینه لري . څه وخت د طالبانو د ثاني امر په امید کښيني خو ثاني امر هیڅکله نه رارسیږي . مینه د انګلیسي ژبې او نور ېټ کورسونه لولي ، په روغتیایي مرکز کې روغتیایي زده کړې هم کوي ، هورې یې له یوه پوه او ځوان ډاکټر نصیر احمد حشمتي سره پیژند ګلوي کیږي . تقدیر یې لاس د یوه ظالم جنګسالار په لاس کې ورکوي ، دغه ټوپکوال په مکروریانو کې ددوی ګاونډی اشرف خان دی . مینه له اشرف خان سره د کوژدې په سبا چې د وزیر اکبر خان روغتون په نیت دندې ته ځي ،د بلاک په زینو کې له اشرف خان سره مخامخ کیږي . اشرف خان یې په خپل لاس کې په ټوپک تهدیدوي او دندې ته یې نه پریږدي . ورته وایي ښځه یا د کور ده یا دګور . مینه بیرته کور ته ننوزي او سخته رواني ضربه وینې . څو اوونۍ په روغتون کې بستري کیږي . ډاکټر حشمتي یې تداوي کوي . لا په روغتون کې وي چې د اشرف خان په غوښتنه یې له هغه سره اړیکې شلیږي او له ډاکتر حشمتي سره واده کوي . نوموړې له ده سره پخوانۍ مینه لري .

د ناول کیسه د ناول د اتلې مینې په راپیژندنه پیلیږي په څو کرښو کې د هغې خیره ، خوی ، د زده کړې ځای او نورې ځانګړتیاوې راپیژندل کیږي . د ناول کیسه له پیله تر پایه په حرکت کې ده ، او تر ډیره د فولکلوریکو کیسو په څیر پیښې د راوي له خولې بیانیږي . د څېرو او ځایونو ترسیم لنډ بیان شوی دی . دا موضوع په ناول کې هغه څه ده چې باید ډیره پاملرنه ورته وشي . داسې چې نه باید دومره زیات وي چې د ناول د کیسې حرکت ودروي او نه هم باید دومره په لنډو جملوکې وي چې سړی ته د مهمو پیښو ځای هیڅ سترګو ته ونه دریږي .
ما چې د ایمل پسرلي د ( لټون ) ناول لوستی له هغه وروسته چې هر وخت له نوي ښار او قلعه فتح الله څخه تیریږم هر ځل د هغې نانوایي په باب فکر کوم چې د انجو د بهرنی کارکوونکي میرمنې برمته کوونکي قومندان به ترې هره ورځ ډوډی وړله .

له ځانه سره وایم دا به کومه نانوایي وه ؟ کیدای شي دا د شیرپور نویو جوړو شویو کورونه ته څیرمه نانوایي به وه ، بیا یې چې شاوخوا ته ګورم ، وایم نو هغه موټر چې دغه ټوپکوال یې ځاره چیرې به درېده ؟ بیا لوېې ځارنوالی ته نږدې نانوایي او یا هم دلته د قلعه فتح اله نورې نانوایي هغه نانوایي بولم کوم چې د موسسې د کارکوونکې میرمنې تښتوونکي به ډوډۍ ترې اخستله .

دا د ایمل پسرلي د قلم قوت دی ، چې دا ځای یې داسې ترسیم کړی چې تل مې په ذهن کې وي . همداسې د عبیداله محک د ( زمرده ) ناول ځینې ځایونه . کله چې د ښه او پراخ کور انګړ وینم ، د زمردې کور مې یاد ته راشي . سره لدې چې په زمردې ناول کې ډیر اوږد ترسیم شوی فکر کوم لس دوولس مخه پرې ډک شوي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ندا هم پخپل ناول کې د پېښو د ځایونو او څېرو د ترسیم هڅه کړې ده . په ډېرو ځایونو کې ډېر لنډ دي ، خو دې لنډوالي بیا د کیسې له حرکت سره مرسته کړېده . د کیسې حرکت لوستونکی نه ستړی کوي ، لوستونکی غواړي راتلونکو پېښو ته ژر ورسېږي . د ندا ساپی په ناول کې لا له پیله تلوسه شته . د هر مخ په لوستلو لوستونکی د کتاب بل مخ ته هڅول کېږي . د ناول د برخو په پای کې کلف هنګر په پام کې نیول شوی دی . د یوې برخې پای د مثال په توګه یادوم :

د ناول اتله مینه وایي:

- نه نه زه دا ترو پر ځان نشم منلی ، نه یې شم منلی .
او دې سره سم یې په زوره چیغه کړه او سمدلاسه بېسده پرېوته .
دلته یوه برخه ختمیږي . لوستونکی هڅیږي چې د ناول بله برخه په لیوالتیا سره ولولي . له لوستونکي سره پوښتني پیدا کیږي . په مینې څه وشول ؟ راتلونکی غبرګون به یې څه وي ؟ او داسې نور ...

ددغو پوښتونو د ځوابونو د پیدا کولو لپاره لوستونکی د ناول بلې برخې ته ځي او لولي یې .
په زیاترو برخو کې دې ټکي ته پام شوی دی ،خو د ناول په ۲۹ مخ کې یوې کوچنۍ بې توجهي د ناول د یوې برخې تلوسې ته زیان رسولی دی . هغه دا چې کله اشرف خان مینې ته په غوصه کېږي او هغه نه پرېږدي چې دباندې ولاړه شي یوځای لیکي :

«دې پېښې د مینې د زخمي زړه په پرهارونو داسې یو ژور پرهر کېښود ، چې بیا یې د ژوند تر وروستۍ شیبې پورې روغتیا ونه مونده ...»

دغسې لیکنه د کیسې تلوسې ته زیان رسوي ، لوستونکی پو هیږي چې د کیسې کرکتر به تر پایه داسې وي . په حقیقت کې د کیسې د پای خبره دلته شوې ده .
په ناول کې د سیمو د نومونو یادونه د کیسې د ریښتیانی سره مرسته کوي .

«په سترګو کې لیکل شوې افسانه» ناول کې د کیسې د پېښیدو د سیمو یادونه شوې ده ، وزیر اکبر خان مینه ، د ابوالقاسم فردوسي لیسه ، شینو زاده کلنیك ،بلخي روغتون ، مکروریان ، د سروبي ولسوالی او نور هغه ځایونه دي چې کیسه پکې پېښه شوې ده . دغه ناول له تصویري او شاعرانه جملو څخه هم مالامال دی . د بېلګې په ډول څو جملې دلته رانقلوم:

«هغه تر ډېره ځنډه همداسې پخپل ځای کې ناسته وه ، د سترګو له ایلبنده یې د خوبونو کوچې کډه کړې وه او خپل ځای یې د اوښکو سیلابونو ته پرې ایښی وو . هغه له خپل تخت څخه کښته شوه ... بهر برنډې ته ووتله ...مینې پداسې حال کې چې غبرګ لاسونه یې د برنډې په بازو ایښي وو او باد یې خواره واره ویښتان پر مخ رپول ...»

دغه څو جملې د مینې حالت د سړي سترګو ته په ښه توګه درولای شي . او دا دناول د لیکوالي یوه کامیابي بللای شو.

د ناول پېښې له یوبل سره ډېر ښه او منظم تړاو لري . د ناول یوه برخه د بلې بشپړوونکې ده . دمخه مو د تلوسې خبره وکړه او په یو ځای کې مو د تلوسې د ماتیدو هم وویل ، خو دلته چې د ناول پای ته نږدې پانو ته رسیږم نشم کولای لدې سترګې پټې کړم ،چې د ناول آن د پای په برخو کې هم د پېښو غوټې شته او تلوسه پکې پیاوړې ده ،لوستونکی د یوې پېښې په فکر کې وي خو بله پېښه رامنځته کېږي او منطقي تړاو هم لري د مثال په توګه :
په ۴۹ مخ کې مینه له ډاکټر حشمتي سره چې لا دمخه ورسره مینه لري خپل نوی پیوند ردوي له ژړا سره وایي :
- زه نور لدې سړیو څخه کرکه لرم ، دوی ټول یوډول دي ،بې رحمه دي ، خود خواه دي ...

پداسې حال کې چې لوستونکی فکر کوي دا به دې کوژدې ته چمتو وي . په مقابل کې ډاکتر حشمتي نه مایوسه کیږي او د خپلې اروا پوهنې له مخې پوهیږي چې د مینې زړه هغه څه نه غواړي چې په خوله یې وایي ، د ی وایي :
- زه د مینې له کرکټر سره ښه بلد یم ، زه پدې پوهیدم چې که د هغې په زړه کې هر څه وي ، خو د هغې غرور ورته دا اجازه نه ورکوي ، چې هغه څه څرګند کړي . او آن هغه خو خپل ځان ته هم پد ی هکله د فکر کولو اجازه نه ورکوي ...

دا ډول تر دې دمخه له اشرف خان سره د اړیکو په شلولو د مینې خفګان هغه څه دې چې لوستونکی یې عکس فکر کوي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ځینو کوچنیو ګرامري ستونزو ، په ځینو برخو کې د لیکوالي پلوي توب ، ځیني تصادفي فلمي پیښو تر څنګ د ناول د یوه اصلي کرکتر د نوم غلطي د ناول له ډېرو لویو نیمګړتیاوو څخه دی . څرنګه کیدای شي چې د ناول د یوه اصلي کرکتر نوم دي تر نیمایي کتابه وحید احمد وي او له نیمایي وروسته په ۷۳- ۸۵ او نورو مخونو کې فرید احمد وي . دومره لویې نیمګړتیا ته نه لیکواله ، نه هم د ناول کتونکي او نه چاپ چاري متوجه شوي دي .

ناول د ټولنیز ژوند ، زده کړي ، د ښځو د ژوند په اړه پیغامونه لري او تر ټولو ښه دا چې ناول په هیلو ولاړ دی او انسان ژوند ته امیدواره کوي . چې زه یې د ناول د لیکوالي بریا بولم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ